
دخنداگوډی
گُل ملا همکار
کال: ۱۳۸۷ هـ ل

# دخندا گوړی

ګران او محبوب د ګل ملا د زړه [illegible] صیب ته [illegible] ډالۍ کوم

Gulmola
26.VII.08

**گل ملا همکار**

ACKU

بسم الله الرحمن الرحيم

ACKU

**کتاب پیژندنه**


| | |
|---|---|
| ❀ دکتاب نوم: | دخندا گوډی |
| مولف: | گل ملا همکار |
| ❀ کمپوزر: | سید جلال الدین حقاني |
| ❀ کمپوز ځای: | کانون کمپوز وچاپ تخارستان |
| ❀ دچاپ ځای: | مطبعهٔ مسلکی افغان |


**دچاپ حق مولف ته محفوظ دی**

# مناجات

په مولا باندې شیطان نه پنا غواړم
له ظالم غوندې سلطان نه پنا غواړم

له اصیل پارسي زبان نه قربانیږم
له کم اصل پارسیوان نه پنا غواړم

چې پښتو وایي پښتو نه کړي خاونده
له پښتون او له پټانه پنا غواړم

چې انصاف او صداقت ورپکې نه وي
زه له داسې مسلمان نه پنا غواړم

که دبل په بربادۍ کې لټوي ژوند
له رزیل قبیح انسان نه پنا غواړم

تل ترتله دا دعا کوه همکاره
له زواله دایمان نه پنا غواړم

ACKU

# يونيفورم

نن دعلم او هنر معيار پتلون دی
نه پوهيږمه چې څرنګه بدلون دی
ډمان ټول هنرماندان آرکسټران شول
هر ناکس بډاي په شانته د قارون دی
اخ و ډب مو په ټاټوبي کې پيل شوی
اوريل شوی دتاجك او د پښتون دی
ثا بللي ميلمانه راتپل کيږي
وران وطن نه مي جوړ شوی ميلمستون دی
ميلما نه مو کوربانه راته را وژني
دنړۍ ببو چپه غوندې قانون دی
کار دکار اهل ته نه ورکول کيږي
بس د زر او زور لرونکی افلاطون دی
نن ګمان کړم غوسه شوی يې همکاره
که نۀ داخو يونيفورم د ژوندون دی

# ختې

پسرلي کې دباران سره وي ختې
په بازار کې هر دکان سره وي ختې
ښنې لاسونه به يې خود بې ځايه کيږي
چې دښو د هر انسان سره وي ختې
دمحبوبې زړه يې وی شين د ډيره غمه
چې کوڅه کې دجانان سره وي ختې
دحجرې حالت به هم خچن پچن وي
چې مهمان او د ميزبان سره وي ختې
تيز رفتار موټر کړی سپينې جامې برګې
په سرك روان روان سره وي ختې
بې له ختو خوشبويي نه وي همکاره
دګلونو ګلستان سره وي ختې

ACKU

# کټ او پاکټ

دګلاب په شان دې مخ دی د رباب په څیر دې خټ
تو ر ذلفان دې پرې خواره دي غټ پټ مخ دې پکې پټ
ګلابي شونډې دې غټې لکه غټې غټې ګټې
نوره ښه ئی بده نه ئی خو داسر دې لږ څه غټ
نه درتلمه په اختر کې د اختر مبارکۍ ته
راغلم ځکه چې په مینه رالیږلی دې پاکټ
زه چه درغلم محبوبې تا تشریف ؤ اوړد کړی
ستادیدن مې ډیر یادیږي خو ته یې د اسمان کټ
ستا په لټه پسې ګرځم کور په کور کلي په کلي
لټولی مې په تا پسې داکلی لټ په لټ
ګرانې تاته مې راوړي رنګ په رنګه سوغاتونه
یو سوغات ډنډه سګرټ دی او یو بل ډبلی بسکټ

# تنخوا

چه تنخوا شوه په موړ بنده مونږ به څه خورو
چارپایان نه یو چې بوس یا به واښهٔ خورو
تاسې خورئ همیش خواږه غوړ خوراکونه
مونږ د وخت څپیړې خورو سوکان درانه خورو
شپون ویده شو رمه ماته کړه لیوانو
اوس به مونږ هغه ترشې شومړې هم نه خورو
په شومړو وچه ډوډۍ مو ګذاره وه
تل مونږ وینې د ځګر او لړمانه خورو
که همکاره نور څهٔ نه وو چې یې وخورو
بیا به خپل همدا الفاظ کاږه واږه خورو

ACKU

# تاله سایکل تالا

تاله سایکل رانه تالا که نامعلومه سړي
مشکل دتلو راته پیداکه نامعلومه سړي
ماوې جومات دالله کور دی څوک به غلا نه کوي
دخدای له کوره سایکل غلاکه نامعلومه سړي
خود په موټرې اغوا کیږی دسړیو سره
چاکه راضي پولیس والا که نامعلومه سړي
چاویل هلکه چې تاله سایکل یې څنګه یوړو
ما ویل تاله سایکل په شاکه نامعلومه سړي
دغلا سایکلې خرڅوي څوك یې پوښتنه نه کړي
چې وو دچا خرڅ یې په چا که نامعلومه سړي
د ډیره درده مي دغلا دانظم ولیکلو
پټ چې سایکل دګل ملا که نامعلومه سړي

# دچرګو غل

دچرګو غله بې سواده دانېر بچيه
ای بې ادبه خدای خوار کړه دګيدړ بچيه
پخوا له مونږه ګيدرانو به چرګان تښتول
اوس ستا له لاسه چرګک په کور نه کوي کړ بچيه
که تا تعليم او تربيه واي له معلم زده کړې
ولې به داسې غلچکې وی خوږېږ بچيه
چې بې تعليمه شولې پاتې نو چرګان پټوې
له دې نه واوره کنه څوك به دې کړي مړ بچيه
راشه مکتب ته فساد پرېږده دپوهنې مل شه
ترڅو دقام شې او وطن لپاره وړ بچيه
ګرکه همکار په مزاحيه شاعرۍ نه پوهيږې
مګر داڅو تکې يې زده دي ستا په لړ بچيه

AOKU

# دوه څلوريځې

ورځ په ورځ علاج ګرانيږي کړي اسمان سره خبرې
ډاکتر چاته وزګار نه دی کړي دخان سره خبرې
دا غريب ناروغ به خود کړي قبرستان سره خبرې
چې بې غير فيسه ډاکتر نه کړي انسان سره خبرې

څوک له خدايه نه و يريږي ګټه اخلي له قدرته
دقانون پروايې نه کړی که څوک جګ وي او که ښکته
ترافيك دی که پوليس هيڅ کار نه کړی بې رشوته
خپل جيبونه ډکوي تل دمظلوم له منفعته

# کړتې

دومره مه کوه جانانه ډیرې کړتې
چه سرې کړې پښیمانه ډیرې کړتې
که ما وکړې لږه مالګه به پکې وي
زه به کړم مه کړه له مانه ډیرې کړتې
کړتو پړتو باندې هر سړی کړتن شي
مه کړه مه کړه کړتن خانه ډیرې کړتې
ډیرو کړتو دې ماغزه راته خراب کړل
کوې ته چې پریمانه ډیرې کړتې
که شعرونه او نثرونه وایې خیر دی
له دې اخوا مه کړه ځوانه ډیرې کړتې
دهمکار کړتو ته هر سړی خندیږي
واوره ته له ګل ملا نه ډیرې کړتې

# کرکه چرګه

لکه کرکه چرګه هر طرف ته توکي
زړه مې وايي چې دده په خوله دې سوکي
نسوار چې دغاښونو دښمني کړي
خپلې جرړې ځانته ريبي په لروکي
که دمار په خوله کې پريوزي نو مړ کيږي
رنځوران يې کړل زمونږ دخولې هډوکي
زيړې ګوتې نښانه دسګرټې وي
تل سوري يې وي دسګرټ په اور زړوکي
چې پيسې دې په نشو کې مصرفيږي
عاقبت به شې همکاره دپنډوکي

# سګرټ کښه

صاحب دعقل او شعور يې مګر ځان سوځوې
ای سګرټ کښه اس سرکښه خپل ششان سوځوي
چې يې راکاږې نو لنډيږي دومره عمر شي لنډ
ولې خپل عمر هسې شړ په اين وآن سوځوې
په کنټ ،کي تو په ريډاينډ وايټ باندې خرڅونه کوې
هم پرې پيسې سوځوي هم پرې خپل ايمان سوځوې
کينسر او ټی بی مرضونه پيداکيږي ورنه
که ته په سل مرض اخته شې انسانان سوځوې
همکاره ترک د علت کيږي دعادت نه کيږي
ترک کړه نسوار پرېږده سګرټ که دښمنان سوځوې

# دوه څلوریځې

یوې شاعرې یې ملګرې ته ویلې
په خپل شعر به په جهان باندې اوړ بل کړم
دوستې ویل مړې اشتوب راته اوس بل کړه
چه دچا یو ستونزه زه وریاندې حل کړم
یو سړی دخپل یو سپي سره روان ؤ
دې دوران کې یو سړي پوښتنه وکړه
خردې چیرته روان کړي؟ ده ویل ړوند یې
ویل له سپي پوښتم لتانه مې ونه کړه

# جنجړه

زړه مې غواړي خيته زما غوړه وي
وضع د ژوندون مې لږه لوړه وي
ښه موټر مانۍ وي او جيبونه غوړ
ښکلي کابل جان کې مې جونګړه وي
ټولې کنډوالې مو بلډنګونه شي
ماته ددې زر او زور لکړه وي
شی دبيانونو آزادي دلته
حق وينا برينده او لغړه وي
دا لاځه ژوندون دی چه دانشته دی
طبع دې همکاره تل جنجړه وي

ACKU

# دوه هایکوګانې

چرګان زما خوښېږي
زه د چرګانو خوښ یم
زړه ته د زړه نه لار وي
په دې اړه ته څه سوچ کوې جانانه
ویل هغه چې ستا په سوچ کې ځي راځي
نجلۍ وایي بیانو څه لره معطل یې

ACKU

# دظالم لورې

دظالم لورې سوځوې مې ځله
خولګۍ دې راکړه ځوروې مې ځله
لږ رانږدې شه ښکلې ښکل به دې کړم
له ځانه لرې غورځوې مې ځله
پرزه پرزه دې د بدن خوښوم
ښکلې پرزه یې پرزوې مې ځله
په تار د ذلفو دې ترلی یمه
په تورو ذلفو بندوې مې ځله
لکه پیزوان دې دی په پوزه ځوړند
داسې مې زړه دی رنځوې مې ځله
همکار به تل درته همدغه وایي
خدای دې زما کړه غموې مې ځله

ACKU

# پرپوس

زه ورته سوال کوم ځواب راته معکوس راکوي
کله چې زړه ورکوم دا راته پرپوس راکوي
زه ورته هره ورځ کوڅه کې د دیدن په تمه
یمه تم شوی چې له شونډو نه به جوس راکوي
چې مخامخ شي په غوسه کې کړي سرې شونډې په غاښ
په سترګو سترګو کې احساس دننګ ناموس راکوي
د زمانې ګمان په ما باندې دڅه شوی دی
چه زه روزي لټوم خلك راته بوس راکوي
زه هغه باز یم الوتل کوم په دنګو څوکو
مګر وختونه پیغورونه دتپوس راکوي

ACKU

# کرکټ

له کرکټ سره مې ورانه ده جانانه
بې له رنځه نور څه نشته له درمانه
چې بچې دې بچې نه شو کرکټي شو
لاس ترې ووینځه ښه نه شولو چټي شو
فکر نه کوم چې نوم دی کړي روښانه
بې له رنځه نور څه نشته له درمانه
کرکټي به په سبق کې نالایق وي
ځکه درس نه په کرکټ باندې عاشق وي
څنګه تیر شي له پارچې دامتحانه
بې له رنځه نور څه نه شو له درمانه
افغانانو په کرکټ پریکټس مهٔ کړئ
بال و بیټ او په ویکټ پریکټس مهٔ کړئ
زده کړه وکړئ له سید جمال افغانه
بې له رنځه نور څه نشته له درمانه

ACKU

# شیر وشکر

زړه مې په تا باندې مین دی بګو چه کار کنم
چې بې له تا ځینې غمجن دی بګو چه کار کنم
ته پاړسیوانه جینۍ منم جوان پشتون
یو مو فرهنګ یو مو وطن دی بګو چه کار کنم
تو وطندار مني ځکه په تا مین یم
ډیر مې ارمان داستا دیدن دی بګو چه کار کنم
من ترا بوسه کنم که دې په زړه ونیسم
ایښی دې کوم یو کار ته تن دی بګو چه کار کنم
آنقدر ښکلې هستی که بس خو شګلې ۰ هستی
پرته له تا مې ځنکدن دی بګو چه کار کنم

ACKU

# په لاسپیکر خرڅیږي

هغه دی ښار کې مو هر څهٔ په لاسپیکر خرڅیږي
شربت شامپو شومړې سابه په لاسپیکر خرڅیږي
زمونږ دسیمي سودا ټوله اتومات خرڅیږي
شنه بادرنګان مو پاس په خرهٔ په لاسپیکر خرڅیږي
خلك ناراسته شول نو دغه لار یې غوره کړله
کباب میوه ډو ډی اوبه په لاسپیکر خرڅیږي
پوهنه زده کړه ښوونځي او فاکولتي یارانو
ډیر شول قیمته ډیر درانه په لاسپیکر خرڅیږي
یوازې زه همکار هم کم له لاسپیکره نه یم
اوس به زما شیان هم ښه په لاسپیکر خرڅیږی

ACKU

# تیر اختر

په اخترونو کې غمیزې په دیوال وتپه
بیا چې اختر شو تیر نکریزې په دیوال وتپه
اختر په نورو خلکو ؤ پر موږه نه وو میلمه
داسې اختر داشپې او ورځې په دیوال وتپه
دخپل وطن وچه ډوډۍ باندې شکرونه کوم
دبل وطن ساګګ او ملخوذي په دیوال وتپه
دخپل تاتوبی زوی آدم لور یې درخوګنمه
پردې زامن لونې او ښځې په دیوال وتپه
همکاره تا کړه په قلم غزل ته پوزه جوړه
دخمیرې دانورې پزې په دیوال وتپه

ACKU

# ښکنځل

له سپیږمونه دې ګندونه راوریږي
له شونډك دې ځکونه راوریږي
خداي دې خوار کړه تبې مخیه تنګه سریه
ددې مخ نه دې غمونه راوریږي
له غاښونو نه دې جوړ دی راشپیلوته
له وینا نه دې جنګونه راوریږي
په یو سوك به دې کړم خواره خولګۍ ماته
له خولګۍ به دې غاښونه راوریږي
بیدانه به دې اندام دانه وانه کړي
په میدان به اندامونه راوریږي

ACKU

د ورو دقحطۍ په کال لیکل شوی دناشناس دسندرې په طرحه
(نن دجانان دیدن ته ځمه)

# سپورې غتې وریجې

نن دجانان کره به خورمه سپورې غتې وریجې
د ورو په تمه باندي جوړ دي کتارونه خیتې نازنینې
چه په دوکان د دوړې ویش و خیتې نازنینې
زه د غوړو دفکر تال کې زنګیدمه وسوم اور دلوږې
ارمان مې سپین وړه دپنجاب دي خیتې نازنینې
داظالمان یې ډیر قیمته خرڅوینه وسوم اور دلوږې
په لړه مړه نه مړیږم خیتې نازنینې
نن دجانان کره به خیته مړومه وسوم اور دلوږې
شعرونه مه وایه همکاره وه شاعره یاره
د اډیر شعرونه دي نیستۍ ته کښینوینه وسوم اور د لوږې

# دمسلمان لور

که لور د مسلمان یې شه په ستر او پرده کې
مخ پټ که په بورقه کې
خبرې دې حرامې دی دغیرو په جلسه کې
مخ پټ که په بورقه کې

سرې شونډې مزه دارې
په ملا د ذلفو لارې
هر چاته ښکلې ښکارې
ارزښت د حسن کم شو دښکلا په خزانه کې
مخ پټ که په بورقه کې

خندا دې دخاوند ده
حیادې د خاوند ده
ښکلا دې د خاوند ده
دخپل خاوند حیا دې ولې پلورې په کوڅه کې
مخ پټ که په بورقه کې

داځنګه پښتنه یې
ته سپکه که درنه یې
سپین سترګې زنانه یې
زامن د مسلمان دې ګنهګار کړه په روژه کې
مخ پټ که په بورقه کې

ACKU

# دچرګو قبرستان

له خپلې خیټې دې دچرګو قبرستان جوړ کړې
زمونږ له وینو نه دې ځانته ګلستان جوړ کړی
مونږه په هاړاو پشه کال کې سرې ګرمې وخوړو
تا په خپل کور د ایرکنډیشن زمستان جوړ کړی
زمونږ په غوښو دې ظالمه خپل کوکرې ماړه کړل
زمونږ له ژوند دې هدیره او ګورستان جوړ کړی
زمونږ د سر سودا دې وکړله له نورو سره
ځانته دې کور موبائیل موټر باغ وبوستان جوړ کړی
ته د ډالرو او کالدارو سره لوبې کوی
زمونږ وچو شونډو تل دغه داستان جوړ کړی
همکار به ولی ژړیدو له بې وفا یارانو
که افغانانو وای دا خپل افغانستان جوړ کړی

# موسم

اوړي ګرمۍ له ځان سره ګرم باد ونه راوړل
ډير يې غمونه راوړل ډير يې رنځونه راوړل
که په راتلو يې دهر چا پر مخ خولې راغلې
ورسره سمې د مچانو قافلې راغلې
ټولو غوږونو ته دمياسو زمزمې راغلې
همدې مچانو انسانانو کې عيبونه راوړل
ډير يې غمونه راوړل ډير يې رنځونه راوړل
يو خوا ګرمي بل غريبي ده او رڼا نشته
رڼاله کومه شي چې سيمه کې بريښنا نشته
له ذمه وارو سره حس نشته وفا نشته
خپلو کورونو ته يې غټ غټ ماشينونه راوړل
ډير يې غمونه راوړل ډير يې رنځونه راوړل
څوک به عيشونه کوي څوک دې په ګرمو سوزي
چې سيورى نه لري هغوى دې په غرمو سوزي
هم دې د ورځې سوزى هم دې په شپو شپو سوزي
همکاره دغه زمان دغه سوغاتونه راوړل
ډير يې غمونه راوړل ډير يې رنځونه راوړل

ACKU

# میم زر ما تول زما

میم زر ما تول زما
تې زر تا تولې ستا
کشر ورور وایی مشر ته ګرانه لالا
له دنیا نه رخصت شو زمونږه دادا
څه چې پاتې له ده شول دي ستا او زما
د دادا هغه آس چې به دی و پرې سور
ها به زه واخلم ځکه چې زه دې یم ورور
ته یې واخله سر بانده بل جغ او بل لور
بل یې واخله دلاس مبارکه امسا
میم زر ما تول زما
تې زر تا تولې ستا
د دادا کنږی غوا به زه واخلم زه
فرانسی هغه چرګه یې ته واخله ته
اچولي یې هګی په شمار دې شپیته
پام کړه پام چې هګی درته نشي خوسا
میم زر ما تول زما
تې زر تا تولې ستا
زه به واخلم دپلار انګریزي زوړ توپك
ته یې واخله روسی نوی نوزی چاینك
کور زما درکو خوا کې یې ستا شو سرك
ستا شوه ستا دا نګړ اود بام بنه هوا
میم زر ما تول زما
تې زر تا تولې ستا

# قطعه

یوه ورځ قاضي له غل پوښتنه وکړه
تا له غلا نه ولي وکړله توبه
ویل احسان زوی مې اوس ښه دی له دیواله
اوښتی شي ځکه مې وکړه توبه.

دوه شعرونه

تللی وم کشمیر وطن کابل ته زه
هلته دمشرانو چوکۍ غوړې وې
نور نو په دننه ښار او کلیو کې
لارې او ګودرې دړې وړې وې
د۔ ولې دې په سپینو جامو نیل ورنګاوه۔ اړونه
واه واه واه
ولې دې اسمان ته زمونږ بل وخیژاوه
والله تا خو پدې کار زمونږه سر وګرزاوو سر وګرزاوو
یو خوانه وړو ته حیرانیږو لالیه زما
بل دې درانه بلونه ملا را ماتوینه لالیه زما
که په بریښنا کې زه مامور وی بیغمه به وم
پر مونږ به نه وو دبلونو ګذارونه بیغمه به وم
دکرایې کورونه ګران دی خپل کور مې نشته
د کړاوونو ژوند په بیه تیرومه خپل کور مې نشته

# د مرچو پنډ

د رحمتونو په میاشت هر سړی په جنګ وي
تیار دمرچو پنډ وي
روژه کړي ملامته
هر یوه کړی پیشمنی وي
نه چې نهر دې بیګانی وي
خو د جنګونو میړنې وي
ګمان مې کیږي عملي د چرس وبنګ وي
تیار د مرچو پنډ وي روژه کړي ملامته
پل خشتي نه تیریدمه
بدن مې ژلکه بیدمه
خوا مې شوه شنه له ډیره غمه
ګورم چې یو دبل دپاسه په غورځنګ وي
تیار د مرچو پنډ وي روژه کړي ملامته

# پیتي پیتي شي

ښکلی مخ ته یې تل زړه پیتي پیتي شي
هم د ځوان هم د زاړه پیتي پیتي شي
په خوراک څښاک او پوښاک کې چې اسراف کړي
دهغو خلکو خواړه پیتي پیتي شي
چې ښوونه او روزنه پکې نه وي
دسپیره وطن واړه پیتي پیتي شي
دخوراک قانون چې نه وي کوم وطن کې
هم یې وږي هم ماړه پیتي پیتي شي
څوك چې سپې په څیر نښتې کړي او شخړې
هغه خلك په چاړه پیتي پیتي شي
چې یو والې او وحدت ورپکې نه وي
یا شي ورك او یا شي مړه پیتي پیتي شي
دهمکار قلمه ورك مه شې ستا لیك ته
ددې یو نیم شاعر زړه پیتي پیتي شي

ACKU

# ببي بي شيريني سندرې اړونه

بي بي سي ريډيو غلې غلې راباندې واوره
دنړۍ لوی واړه خبرونه بي بي سي ريډيو
کله عراق کله کابل وي
خبريالان دې ډير اخلي دا دواړه نومونه
افغانستان په ګته يې وايه
افغانستان کې خو ستاسې ګټې پټې دينه بي بي سي ريډيو
ته په بې شميره ژبو وايې
زمونږ دملك د مرګ او ژوند ټول حالتونه بي بي سي ريډيو
دوي او اي راډيو دلاسه
ستا هيڅ آواز، زما غوږوته نه راځينه

ACKU

# زما مینا یا فیروزه سندرې په زمکه

زمونږ په کلي کې یوه ښځه ژبه وره ده
ډېره زوروره ده هر چاته ببره ده
زمونږ د کلي همداسې حال دی
چې هغه چیغې کړي غوږونه کڼوینه وی
ډېره زوره وره ده هر چاته ببره ده
کلي کې پټې سترګې ګرځم
وایم چې شکل یې هیڅ نه وینم مینه وی
ډېره زوره وره ده هر چاته ببره ده
کلي کې پټې سترګې ګرځم
وایم چې شکل یې هیڅ نه وینم مینه وی
ډېره زوروره ده هر چاته ببره ده
دومره له دې نه مې زړه موړ دی
چې هیڅ یې ونه وینم ښه به وي مینه وی
ډېره زوروه ده هر چاته ببره ده

## زه انتظار کومه ستا سترګو سترګو سنډرې اړول

ما انتظار کولو ستا دچرګو
تا هګۍ راوړې دبل چا دچرګو
نس نه دې جوړه هدیره دچرګو
تا هګۍ راوړی دبل چا دچرګو
بیخ دې ویستلی د دنیا دچرګو
تا هګۍ راوړې دبل چا دچرګو
که کورنۍ که فارمۍ هګۍ وی که فارمۍ که کورنۍ هګۍ وي
خورم يې په مينه له پخوا د چرګو
تا هګۍ راوړی دبل چا دچرګو
کورني چرګان ډير په بره لاړل
همکاره نوره کوو غلا دچرګو

ACKU

# هلك نري چنار دي سندري اړول

هلك کافي بيمار دي جينۍ په سر پمنه
په سر يې زوړ رومال دي شکيدلې يې لمنه
دغتې پوزې له خاطره بيماره ياره ولې
نيم چارکی چارګل په جيب کې ګرزومه
هلك کا في بيمار دی جينۍ په سر پمنه
په سر يې زوړ رومال دی شکيدلې يې لمنه
دغنم رنکی غم کې ژاړم غمجنه ياره ولې
کله غنم کله غمونه خورم مينه
هلك کافي بيمار دی جينۍ په سر پمنه
په سر يې زوړ رومال دی شکيدلې يې لمنه
ستا ددې پلنو پښو لپاره بيماره ياره ولې
په ټو ل بازار کې پيزار نه پيدا کومه
هلك کافي بيمار دی جينۍ په سر پمنه
په سر يې زوړ رومال دی شکيدلې يې لمنه
ترسکون شعرونه راته وايې همکاره ياره ولی
دانور شعرونه مونږ ته خوند نه راکوينه
هلك کافي بيمار دی جينۍ په سر پمنه
په سر يې زوړ رومال دی شکيدلې يې لمنه

# نایس تو میټ یو

یو آر ویلکم برادرم نایس تو میټ یو
ویټ اوټ آف یو خونجیګرم نایس تو میټ یو
وي آر لیونګ ان د کنټري اف د افغان
جنګ روان دی پکې ګرم نایس تو میټ یو
ډیر برادرز فور د ګاډ جنګونه مه کړئ
تماميږي به ضررم نایس تو میټ یو
ادر کنټريز مو په یونین خپه کيږي
له خپل ځانه بيخبرم نایس تو میټ یو
دس از مکسچر اف دپويټري اف د همکار
تنکس فور ليسن تو مکسچرم نایس تو میټ یو

ACKU

# ګیږویشن

دقام بچیه په کالج کې ایډمیشن واخله
علم حاصل کړه په حصول کې یې ایکشن واخله
جذبه پیدا کړه او احسان پیدا کړه سعیه وکړه
په نتیجه کې ترقي، پروموشن واخله
یو ځل په مینه خدمتونه سرته ورسوه
هغې نه پس موټر بنګله ایرکنډیشن واخله
نه چې دخلکو او عوامو نه جیبونه کټ کړې
د دوی لپاره دخدمت ښه پوزیشن واخله
د ارسطو د افلاطون سقراط نه وروسته نشې
دمسلمان بچې یې سپیشلایزیشن واخله
ابو ریحان ابن سینا او د سید بچیه
خپلو مشرانو نه پوره انفورمیشن واخله

# غم او شلغم

داکندم بندن به خاورې زما سم وي
چې د کور دکرايې راسره غم وي
څنګه وچې دغريب سترګې په نم وي
چې بازار کې يې قيمته دال شلغم وي
په خندا چې تا دپيغلو سره ويني
د ورود مور په سترګو دې تورتم وي
خو ژوندی يم دقلم سره به پايم تازکي دکل په قدر د شبنم وي
دسګرټو څکوونکو ته وينا ده
دسګرټو نه به جوړ ورته بلغم وي
دقلم دملګرتيا نه به وانه ووړم
که په توره باندې سر زما قلم وي

ACKU

# شړپ و شړوپ

درز د دروز کړس و کړوس
کړي پيالي او پتنوس
ډز و ډوز اخ و ډب
کړي جاهل بې ادب
کړنګ و کړونګ شرنګ و شرنګ
وي په ساز او آهنګ
توې توې توې قې قې قې
ددې نوم موسيقي
کش و پش غروبر
هيا هوي کړپو کړوپ
نن سبا دي هر خوا
ښه خوراك شړپ و شړوپ
دا ګرمي غنګو بنګ
وي د ماشو آهنګ
قافلې د مچانو مو راشي په جنګ

ACKU

# د سوکړک سندره

سوکړک پخوم
توده ډوډۍ د جوارو مخکې درته ږدمه
هوسانې ته مې زړه کیږي سوکړک پخوم
ماته دجوارو پراټې راوړه مینه
که ان جي او مې درلودلای سوکړک پخوم
ؤ به مې جیب کې د ډالرو خړ لوټونه
سوکړک پخوم
توده ډوډۍ د جوارو مخکې در ته ږدمه

ACKU

# کمپیوټر

زمانه د کمپیوټر شوه
ګران تیپر او تماتر شو
غټ افسر ددې دفتر مو
کمپیوټر اپریټر شو
د وزګارو زلمو جونو
مستقبل مو بې خطر شو
زندګي په کمپیوټر شوه
زنکدن په کمپیوټر شو

دماچوم تلاڼه (دماشوم ترانه)

پاپې دې را او چتې کړه
چاچې باندې چکچکې کړه
ورې ورې خبرې کړه
غمونه رانه لیرې کړه
غمونه رانه لیرې کړه
پاپا وخوره چې موړ شې
چې ښه لویو ته جوړ شې
بیا لوبې په مزه کې کړه
پاپې دې را اوچتې کړه
چاچې باندې چکچکې کړه
ورې ورې خبرې کړه
غمونه رانه لیرې کړه
غمونه رانه لیرې کړه

کړه لوبې دقلم سره
کتاب او معلم سره
کتاب او معلم سره
نور هیڅ مه کوه ورك یې کړه
پاپې دې را اوچتې کړه
چاچې باندې چکچکې کړه
ورې ورې خبرې کړه
غمونه رانه لیرې کړه
غمونه رانه لیرې کړه

ACKU

# آی لویو

خومره ښه یې خومره سپنه آی لویو
وټ اګرل فرینډ نازنینه ای لویو
د وطن مینه په تا شوله بدله
وټ دې چینجز مینه مینه آی لویو
د وطن په مینه پیوپل رچ پرسن شول
ماته ستا دیدن لکونه آی لویو
ان دې لایکنګ اف دې خاورې سرشي خاورې
آی دونت لایك دوطن مینه ای‌لویو
زه به تاسره ویډنګ کړم ان دي هوټل
بیوټي فل کپل به شونه آی لویو
فیس اینډ آی، شونډې دې بای پین دي جوړې شوی
یې لایك فلاور ګلورینه آی لویو
دهمکار پوور قلم کې نور څه نشته
ګډې وډې بادونه آی لویو

ACKU

# کنه زه خو زړور یم

په یوازې ځای کې ناست وم
بوګنوونکې شان فضا وه
شپه تیاره چپه چوپتیا وه
چې ناڅاپه داسې حال کې
یو آواز له کومې راغې
زما غوني تول زیږه شول
زړه نا زړه مې څراغ بل کړ
ګورم څه توره پیشوه وه
چې آواز یې و راغلې
که نه زه خو زړویم

دمنې ګله

دمنې ګله له تا وروسته سرې منې راځي
منې چې خرڅې شي جیبونو ته پیسې راځي
خوند دهغو وي چې د چا وي دمنو باغونه
زمونږ د خوارو په خوبونو کې منې راځي
ښکلو مخونو تشبیه تا سره کوي شاعران
ښکلو مخونو ځانله تاسره تشبیه راځي
من په پنځه سوه منې دی مونږ یې نه شو خوړی
زمونږ لپاره شنه بادرنګ خرې خرې راځي
دنړۍ خلك ارمانجن دي دکابل د منو
میدان ودرګ نه یې همکاره تکې سرې راځي

ACKU

# غضنفر ته یو څو لنډې

تیره اونۍ چه ته رانغلې
خدای ږو په ډاګه دې کمې محسوسیدنه
دبهیروالو غضنفره
له خیاله بره دې افکار الوت کوینه
دپسرلي دباغ بلبله
دبهیر ګله مرکه دې خوند کوینه
ته لا کوچنی وې چې مین وې
تل در سره به ول په ترخ کې کتابونه
د آزادی راډیو دې ویاړي
چې د اسد غوندې طوطیان لرې مینه
ته دهمکار سره همکار یې
زمونږ پکار یې بهیرمه پرېږده مینه

# پوډري

که دې ولیدو انجام د پوډري
ځان به وساتې له نام د پوډري
په بلایې ځان اخته هغه انسان کړ
چاچې واخستو سلام د پوډري
په بدن کې یې د وینې درك نه وي
رنګ یې زیړ وي تل مدام د پوډري
د یوې پونۍ پوډرو په حصول کې
مصرفیږي صبح و شام د پوډري
ستا دښمن دې په پوډرو خدای اخته کړي
د دښمن دې شه انجام دپوډري

ACKU

# احمده

داکتر احمده سمندر دمینې
دومره اوچت شې لکه غر دمینې
خدای خبر ته له ناروغانو څه کړې
چې دومره ته یې ناز پرور دمینې
یې دبې وزلو ناروغانو همدرد
تل وي مطلوب داسې بشر دمینې
متخصص دداخلې یادیږي
هم دکوچنیانو یې ډاکتر دمینې
حاجي حسام په خیر سړی دې پدر
چې دی لیکونکی شمله ور دمینې
دګل ملا همکار ملګری یاره
رب دې کامیاب کړه چې شي لمر د مینې

ACKU

# د خبرو ګوډی

خبرو ګوډی د خندا ګوډی دی
هم د خندا هم د ژړا ګوډی دی
د اد طنزونو او مزاح خلته ده
د صلاحی صیب د وینا ګوډی دی
نیمګړې هیلې مو تر سره نشوې
ولې تړلی مو هوسا ګوډی دی
د خیتو ګوډی خلکو و پړسول
تش پروت له وړو زما او ستا ګوډی
افغانستان دی د مرګونو ګوډی
دا د آسیا د ناروغتیا ګوډی دی
مبارکي مو صلاحي ومنه
خبرو ګوډی د ښکلا ګوډی دی
همکار ددې کتاب کتنه کړې
دا د قلم د پیاوړتیا ګوډی دی

ACKU

# اندامونه

یو دې سر دی دوه دې سترګې دوه غوږونه
بل دې مخ ور پکې پوزه خوله غاښونه
وچې شوندې لاندې باندې په خندا
په خوږه خوله ښه کوې د خلکو زړونه
زه به تل درته سلام په دوه لاسی کړم
که زما په طرف کیږدې قدمونه
د ښیګړې او اصلاح کار ترینه واخله
چه مولا درته درکړي اندامونه
د همکار غریب نور څه له لاسه کیږی
ګډې وډې جوړوي لیکي شعرونه

ACKU

# ګز ټماټر

دا ټماټر دې کز په څو واخیستل
دا دې وړیا که په پیسو واخیستل
زمونږه خلك باټنګر اخلي
ما په پښتو تا په پارسو واخستل
چې سره رومیان ورك شي بیا رب واخلو
خوندونه دوی له سموسو واخستل
څوك سره چرګان خوري ځینی وچه ډوډۍ
موږه آشونه په کاسو واخستل
همکاره ولې شومړی نه رانیسې
چه وایې څو واخستل څو واخستل

ACKU

کور ودانی او مننه

زه د افغان مسلکي مطبعې له عمومي رئیس احمد شاه دراني څخه د زړه له تله مننه کوم چې ددې ټولګي د چاپولو په لړکې یې راسره پوره ونډه لرلې ده.

هو ښاغلی احمد شاه دراني د هیواد تکړه کارپوه چې په طباعتي کارونوکې د خپلو هیوادوالو په چو پړکې شپې او ورځې تیروي.

دی، زامن او کارکوونکي یې د هغه مینې له مخې چې د کتاب، قلم، پوهنې او چاپونې سره لري دا دی د خندا ګوډی یې هم را ته په خپل مالي لګښت او په خپله مطبعه کې چاپ کړ کور ودانی ورته وایم.

ګل ملا ﴿همکار﴾

ACKU



## د لیکوال چاپ شوي آثار

۱ ـ تخنو ونکې پلوشې

۲ ـ په زړه پورې مرغلرې

۳ ـ خوندور شعرونه او خنده ورې کیسې

۴ ـ شهدختان شهرستان

۵ ـ او همدا تولګه

سر بېره پردې همکار لس نور کتابونه له پارسو او اردو ژبو څخه پښتو ته اړولي او له پښتو يي دري ته ژباړلي دي. همدغه راز د نوموړي لسګونې مقالې او شعرونه په مجلو او ورځپاڼو کي خپاره شوي دي.

ACKU

پیښور: ۰۳۴۶۹۱۲۲۴۲۱

کابل: ۰۷۷۴۵۶۵۸۸۶